پۀ 10 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 27 ربيع الاول شريف، کال 1448ھ) د پاکستان

پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# اُن کا ہے چہرہ نُور کا

# [د هغوئي مخ د نُور دے]

(د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اندامونو د حسن و جمال ښکلے بيان )

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---حجرِ اَسوَد ښکل کړو
- ---مخ ګويا د قرآن پاڼه
- --- د قرآن سره تشبيه ولې ورکړے شوه؟
- --- د ږيرې خرېلو نقصانونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت محمد بن سَعید رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما د دُرُودِ پاک یوه شمیره مقرر کړې وه او روزانه به مې پۀ هُغه همره شمیره کښې دُرُود شریف لوستلو او اودۀ کېدم به، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دُرُودِ پاک پۀ برکت سره یوه ورځ چې زۀ اودۀ شوم نو بخت مې رابېدار شو، ما وکتل چې زما خوږ آقا، حبیبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه کور، زما کمرې ته تشریف راوړلو، اَللهُ اَکْبَر! د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نُور مبارک باندې ټوله کمره روښانه شوه۔

بہرِ دیدار جھک آئے ہیں زمیں پر تارے | واہ اے جلوۂ دِلدار! چمکنا تیرا[1]

واه! نیک بختي--!! زما کریم آقا، زما رحیم آقا، غریب پروَر، د ټولو نبیانو سرور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم باران راوورولو او زما غوندې غلام خوا له يې تشریف راوړلو او د مینې پۀ ډکه

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:26۔

لـهجه کښې يې وفرمائيل: اے زما خوږه اُمَّتي! پۀ کومه خُله باندې چې تۀ پۀ ما باندې درود لولې، راوړه! چې زۀ هُغه خُله ښکل کړم--!!

قربان مَیں اُن کی بخشش کے، مقصد بھی زباں پر آیا نہیں
بِن مانگے دیا اور اتنا دیا، دامن میں ہمارے سمایا نہیں
اُن کا تو شعار کریمی ہے، مائل بہ کرم ہی رہتے ہیں
جب یاد کیا اے صَلِّ علیٰ، وہ آہی گئے تڑپایا نہیں

حضرت محمد بن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک چې ما واوريدلو نو ما له حيا راغله چې چرته زما خُله او چرته د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلي مبارکي شونډې--!! د دې سوچ سره ما د حيا نه خپل سر ښکته کړو، بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله زما مخ ښکل کړو--!!

ارمان زدوں کی ہیں تمنائیں بھی پیاری
ارمان نکالا تو کس ارماں سے نکالا (1)

حضرت محمد بن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي چې: سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پۀ ما خنکه دا عنايت اوکړو نو زۀ راښيدار شوم، زما کور وداني خوک چې زما پۀ خوا کښې اوده وه، هغه هم راويښه شوه، زمونږه کور د پاک نبي، مکي مَدَني، رسولِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوشبويۍ نه ډک وو او زما مخ خو د 8 ورځو پورې ځليدو- (2)

وہ جس رہ سے گزرتے ہیں، بسی رہتی ہے مُدّت تک
نصیب اُس گھر کے جس گھر میں ٹھہریں میہماں ہو کر (3)

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:60۔
2...القول البديع، صفحه:141140۔
3...ذوقِ نعت، صفحه:130۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې د درودِ پاک په برکت سره په حضرت محمد بن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې څنګه کرم وشو---! الله پاک دې مونږ ته هم د ډير ډير درودِ پاک لوستلو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بیٹھتے اُٹھتے، جاگتے سوتے | ہو اِلٰہی مرا شِعار درود[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ په اَدب به کښېنم ❀ ښه په توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حَجرِ اَسوَد ښکل کړو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت حليمه سعديه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، د چا چې د خوږ آقا و مولا،

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:124۔

2... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ۔

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خِدمت سعادت نصيب شوے، پۀ روايت کښې دي،کوم وخت چې هغه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْها عنها د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اغستلو دپاره حاضره شوي وه هغه وخت هغې رَضِىَ اللّٰهُ عَنْها نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ غيږه کښې واخستو او د کعبې خوا له لاړه-

اَللّٰهُ اَکْبَر! خومره ښکلے منظر به وو--!! کعبه چې د چا پۀ حُضُور کښې د سلامۍ د پاره راټيټيږي، نن هم هٰغه خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کعبې شريفې مخې ته وو-هٰغه وخت د کعبې شريفې ګېر چاپېره پۀ سوونو بتان اېښودے شوي وو، د کومو چې به خلقو عبادت کولو. پۀ روايت کښې دي:څنګه چې سيده حليمه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْها د کعبې شريفې خوا ته ورسيده ،نو د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ پۀ ليدو سمدستي ټول بتان يو يو پړمخې پۀ راپريوتو شو-

| | |
|---|---|
| چاند سا چمکاتے چہرہ نُور برساتے ہوئے | آ گئے بدرُ الدُّجیٰ، اَھلاً وَّ سَھْلاً مرحبا |
| جُھک گیا کَعبہ سبھی بُت مُنہ کے بل اَوندھے گرے | دبدبہ آمد کا تھا، اَھلاً وَّ سَھْلاً مرحبا (1) |

پۀ روايت کښې نور دي: چې حضرت حليمه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْها د حجرِ اَسوَد د ښکلولو دپاره د هغې خوا له ورسيده ، خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ غيږه کښې وو،لکه پۀ حجر اسود هم چې اختر راغلے وو چې محبوب ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله تشريف راوړے دے

فَخَرَجَ الْحَجَرُ الْاَسْوَدُ مِنْ مَّكَانِهٖ حَتّٰى اِلْتَصَقَ بِوَجْهِهِ الْكَرِيْم

1...وسائلِ بخشش، صفحه:147146 ملتقطاً.

ترجمه :یعنې حجرِ اَسوَد (د خوشحالئ او د محبت په شوق کښې) د خپل ځائے نه راووتو تر دې چې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ سره ولګیدلو (او ښکلول یې شروع کړل)۔ (1)

## کیا ہی تصویر اپنے پیارے کی سنواری واہ واہ

### (څومره ښکلے تصویر یې د خپل خوږ محبوب جوړ کړے دے واه واه)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره ځانګړے شان دے، داسې حُسن به هم چرته چا لیدلے وي؟ اَللهُ اَکْبَر! دا هغه نُوراني مخ دے چې د حجرِ اَسوَد په شان جنتي کاڼے هم دا ښکلوي - اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

خامۂ قُدرت کا حُسنِ دَستکاری واہ!واہ...!!

کیا ہی تَصویر اپنے پیارے کی سنواري واہ!واہ...!! (2)

وضاحت: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د قدرت د قلم د لیکلو حُسن هم څومره کمالي دے، دې قلم د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصویر څنګه بے مثله او بے مثاله جوړ کړے دے۔

---

1...تفسیر مظهری، پاره:18، سورۂ نور، زیرِ آیت:35، جلد:5، صفحه:205۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:134۔

# آئینه یـې هم عاشقه وختله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زۀ تاسو ته یوه خوندوره خبره اوکړم: آئینه چې کومه وي، پۀ کومه کښې چې مونږ ځان ته ګورو، شاعران آئینې ته بے وفا وائي- چا وئیلي وو:

آئِینَه نِیْسْتْ دِلْ کِه دَهَدْ جَا بَه هَرْ کَسے
اِیْں پَارَۂ عَقِیْق بَنَامِ تُو کَنْدَه شُدْ

وضاحت: یعني زما زړۀ آئینه نۀ ده چې هر چا له پۀ ځان کښې دننه ځائے ورکړي- بلکې زما زړۀ د عقیق نومې کاڼي پۀ شان دے چې اے محبوبه! پۀ دې کښې ستاسو نوم نقش شوے دے، اوس پۀ دې زړۀ کښې د بَل چا د پاره ځائے نشته-

نو آئینه چې کومه ده، دې ته بے وفا وئیلے کیږي، خوک چې دې ته ورمخې ته شي، دا د هغۀ عکس پۀ ځان کښې جوړوي- یو منت هم نۀ لګوي، زۀ چې آئینې ته ودریږم نو دا به زما عکس پۀ ځان کښې دننه واخلي، زۀ چې ختنګه لرې شوم، بل راغلے،پۀ آئینه کښې به زما عکس ختم شي، د هُغه بَل کَس عکس به راشي- دا بے وفائي ده- خو قربان شم! دا آئینه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نُوراني مخ باندې مئینه ده- پۀ روایتونو کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د دُنیا نه ظاهري پرده وفرمائیله، دغه وخت خو لکه چې پۀ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم باندې قیامت راغلے ، چا له چې به د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ د یو ساعت د پاره د لیدلو نه بغیر قرار نۀ ورتللو، د هغوئي بیا دغه نعمت نۀ نصیب کیدو- پۀ روایت کښې دي:

کله چې به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار د پاره چې زړونه ډېر ناقلاره کېدل نو صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم به د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْها پهٔ خِدمت کښې حاضرېدل، د هغې سره د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آئينه مبارکه وه، حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْها به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ياد کښې پهٔ نا قلاره کېدلو هُغه آئينه صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم له ورکوله، کله به چې صحابي پهٔ آئينه کښې کتل نو هغوئي ته به د خپل شکل پهٔ ځائے، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُوراني مخ پهٔ نظر راتللو۔ (1)

مدتیں گزریں ملاقات ہوئی تھی تم سے | پھر کوئی اور نہ آیا نظر آئینے میں

سُبْحٰنَ الله! ګويا دا آئينه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مخ مبارک باندې مئينه وه، کله چې هغې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک خپل زړهٔ ته کوز کړو نو د هغې نه پس يې هم هُغه عکس مبارک پهٔ ځان کښې دننه محفوظ کړو، بيا به يې بل يو عکس هم پهٔ ځان کښې دننه کوزېدو ته نهٔ پرېښودو۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مخ باندې قَسم

پهٔ 30 سيپاره، د سورهٔ والضُّحیٰ، پهٔ آيت: 1 نه 3 پورې الله پاک فرمائي:

وَالضُّحٰى ﴿١﴾ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴿٣﴾

---

1...روح المعانی، پارہ:22، سورۂ احزاب، زیرِ آیت:40، جلد:11، صفحہ:297۔

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د څاښت د وخت قَسَم- او د شپې چې کله پرده خوره کړي- ستا رَبّ ته نۀ پرېښودے يې او نۀ يې ناخوښه کړے يې-

علمائے کرام فرمائي: پۀ دې ځائے کښې د ضُحیٰ (يعني د څاښت د وخت) نه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے، روښانه روښانه، ځلېدونکے مخ مبارک مُراد دے او د لَيل نه د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښکلو ښکلو زلفو طرف ته اِشاره ده- (1) مطلب به دا جوړېږي چې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زمونږ دې ستاسو پۀ نُوراني مخ باندې قَسَم وي! ستاسو پۀ ښکلو ښکلو زلفو دې قَسَم وي! ستاسو رَبّ نۀ خو تاسو پرېښودي يئ او نۀ ستاسو نه ناراضه شوے دے-

ہے کلامِ اِلٰہی میں شَمۡس و ضُحیٰ تیرے چہرۂ نُور فزا کی قسم!
قسمِ شبِ تار میں راز یہ تھا کہ حبیب کی زُلفِ دوتا کی قسم!(2)

وضاحت: اے زما د نُور والا آقا [صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم]! پۀ قرآنِ مجيد کښې پۀ وَالشَّمس او وَالضُّحیٰ فرمائيلو الله پاک ستاسو د نُوراني مخ قَسَم اِرشاد کړے دے او د وَالَّيلِ اِذا سَجٰی پۀ فرمائيلو يې ستاسو د کُلکُوتو ښکلو زلفو قَسَم فرمائيلے دے-

او پۀ يو ځائے کښې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ ليکلي دي:

جیسے قرآں ہے وِرد اس گُلِ مَحۡبُوبی کا
یُوں ہی قرآں کا وظیفہ ہے وقارِ عارِض (3)

---

1...تفسير کبير، پاره:30، سورة الضحیٰ، زير آيت:1، جلد:11، صفحه:191-

2...حدائق بخشش، صفحه:80-

3...حدائق بخشش، صفحه:71-

**وضاحت:** د دې شعر وضاحت ډېر ښکلے دے، لږ تصور خو جوړ کړئ! مسجدِ نبوي شريف دے، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے، مُصحَف مبارک يعني قرآنِ کريم يـې مخې ته دے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تِلاوت کوي، هغوئي لولي:

وَالضُّحٰى (۱) وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى (۲)

**الله! الله!** خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرآنِ کريم تِلاوت کوي او قرآنِ کريم وائي: اے خوږه محبوبه! ستاسو پهٔ روښانه مخ باندې دې قَسَم وي! ستاسو پهٔ مبارکو زلفو باندې دې قَسَم وي!

دا صرف د يو تصور خبره ده څهٔ چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې لکه څنګه زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سحر او ماښام، شپه ورځ د قرآنِ کريم تِلاوت کوي، هم داسې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک ذِکر کول د قرآنِ کريم وظيفه ده-

## مخ ګويا د قرآن پاڼه

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: پهٔ کومه ورځ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري پرده وفرمائيله، پهٔ هغه ورځ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپله حُجره مبارکه کښې وو، د نمونځ وخت وو، مونږه اِقامت اوکړو، وروستو خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مُصلې ته راغلو، صحابهٔ

کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم پسي وروستو صفونه جوړ کړل او جَمعه ودرېدله۔

مونږ لا نـمونځ کولو چې په دې کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حجرې مبارکې پرده اوچته کړه۔ اوس دلته د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ الفاظو ته وګورئ! فرمائي:

يَنْظُرُ اِلَيْنَا وَهُوَ قَائِمٌ، كَاَنَّ وَجْهَهٗ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ

يعني خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولاړ وو او زمونږ طرف ته يې کتل، د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارک ګويا د قرآن شريف پاڼه وه۔(1)

جلوۂ مُصحفِ رُخ دِل میں جو پِنہاں ہو گا
پارے پارے میں مرے قَلب کے قرآں ہو گا(2)

مولانا نعيم الدين مُراد آبادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي:

جلوہ فرما ہیں جبینِ پاک میں آیاتِ حق
مصحفِ رُخ دیکھیے! تفسیرِ قرآں دیکھیے!(3)

صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: مونږ نـمونځ کولو خو د خوږ آقا و

---

1...بخاری، کتاب الاذان، باب اہل العلم والفضل...الخ، صفحہ:229، حدیث:680۔
2...سامانِ بخشش، صفحہ:75۔
3...ریاض نعیم، صفحہ:87۔

مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو په خوشحالۍ کښې زمونږ په مخونو خوشحالي راخوره شوه، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د دیدار مبارک د خوند موندلو د پاره دومره نا قلاره وو چې نزدې وه چې نمونځ يې مات کړے وے، حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کوم چې په مُصله باندې وو، هغوئي وګڼله چې شاید نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړونکے دے، ځکه د مُصلې نه راوروستو شو خو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو چې نمونځ مکمل کړه---!! بیا يې د حُجرې مبارکې پرده راښکته کړله او دننه يې تشریف یوړلو۔ (1)

## د هغه صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم په خوږو او ښکلو سترګو دې سلام وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په دې روایت کښې په یو خو خبرو باندې لږ غور اوکړئ!

(1): نن چې چرته روضه مبارکه ده، دا د حضرت عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا حُجره مبارکه وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري ژوند مبارک اخرۍ ورځې هم دلته تېرې کړې، هم د دې حُجرې مبارکې د دروازې نه په پرده اوچتولو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ته د دیدار سعادت عطا کړو۔

که چرې ستاسو سعادت نصیب شوے وي نو تاسو به لیدلي وي چې په مسجدِ نبوي شریف کښې چې چرته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُصلې

---

1...بخاری، کتاب الاذان، باب اہل العلم والفضل...الخ، صفحه:230229، حدیث:680۔

غوړولو ځائے دے، په هٔغه ځائے کښې چې د قبلې اړخ ته مخ کړې او درېږې نو د حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا حُجره مبارکه د زړهٔ اړخ ته راځي، يعنې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د قبلې اړخ ته مخ کړے وو او په نـمونځ ولاړ وو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله پرده مبارکه اوچته کړله او صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته يـې د ديدار سعادت عطا کړو، هٔغه وخت نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د زړهٔ والا اړخ ته وو خو قربان شم! د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عشق هم د کمال او بے مثاله دے، د نـمونځ په حالت کښې دي، مخ يـې د قبلې اړخ ته دے خو څنګه چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرده اوچته کړله، فوراً يـې سترګې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طرف ته واوړېدلې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار په خوند کښې مصروفه شوې-

سر ہے کعبہ کی طرف، دِل ہے تمہاری جانِب
ایسے سجدہ کو تو عُشّاق رَوا جانتے ہیں

## اِيمان تُوئي! اِيمان تُوئي!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په دې روايت کښې يوه بله ډېره ښکلې او اِيمان تازه کوونکې خبره دهٔ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُسن مبارک په خاص توګه د نُوراني مخ په تعارف کولو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ډېر زيات الفاظ اِستعمال کړي دي، مثلاً: ❀ چا وئيلي دي چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُوراني مخ د ځوارلسمې

دسپوږمۍ پۀ شان روښانه وو[1] چا وئيلي دي چې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ نُوراني مخ به داسې ښکاريدو لکه د شپوږمۍ ټکړه چې وي[2] چا وئيلي دي چې د نُوراني مخ نه زيات ښکلے هيڅ خيز نشته، داسې ښکاريدله چې ګويا د هغوئي پۀ نُوراني مخ کښې نمر ګرځي راګرځي[3] - خو پۀ دې روايت کښې صحابي رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د نُوراني مخ حُسن پۀ عجيبه رنګ کښې بيان کړے دے، فرمائي:

كَاَنَّ وَجْهَهٗ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ

ګويا د هغوئي مخ مبارک د قرآنِ شريف پاڼه وه-[4]

سُبْحٰنَ الله! د فارسۍ يو شاعرليکلي دي:

آيَاتِ قُرْآں آبْرُويَت، تَفْسِيْرِقُرْآن گَيْسُوْيَت
اَے رُوْئے تَوقُرْآنِ مَا، اِيْمَاں تُوئِیْ اِيْمَاں تُوْئِی

وضاحت: تاسو که ليدلي وي نو د قرآنِ کريم آيتونه مختصر وي خو د دې تفسير پۀ ډېرو ډېرو صفحو کښې شوے وي- مولانا جامي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو ورۏزې مبارکې داسې دي ګويا د قرآن آيتونه دي، او زلفې مبارکې کومې چې اوږدې

1...شمائلِ محمديه، باب ماجاء فی خلق رسول الله، صفحه:13، حديث:8-
2...بخاری، کتاب التفسير، باب وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِيْنَ...الخ، صفحه:1166، حديث:4677-
3...شمائلِ محمديه، باب ماجاء فی مشية رسول الله، صفحه:48، حديث:121-
4...بخاری، کتاب الاذان، باب اہل العلم والفضل...الخ، صفحه:229، حديث:680-

دي، هغه ګويا د قرآني آيتونو تفسير دے، اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نُوراني مخ زما د پاره داسې دے، ګويا قرآنِ کريم دے، هم تاسو اِيمان بلکې د اِيمان جان يئ-

## د قرآن سره تشبيه ولې ورکړے شوه؟

صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ د قرآنِ کريم سره تشبيه ولې ورکړه؟ علمائے کرامو د دې ډيرې وجهې ليکلې دي،د هغې نه يوه بيانوي : د قرآنِ کريم په صفحو کښې ظاهري حُسن هم شته او معنوي حُسن هم شته-

تاسو چرته تجربه اوکړئ او وګورئ! اودس اوکړئ! قرآنِ کريم راواخلئ! مخې ته يې کيږدئ او کولاؤ يې کړئ! او بس صرف د قرآنِ کريم د الفاظو او حروفو زيارت کوئ، د دې د ديدار سره به تاسو ته يو خاص قِسم له سُکون، اِطمينان، تازګي او خوند نصيب کيږي- دا د قرآنِ کريم ظاهري حُسن دے، دغه شان د قرآنِ کريم د ديدار سره، د دې د تِلاوت سره د زړونو نه زنګونه لرې کيږي، په زړونو کښې هدايت پيدا کيږي، د زړۀ نه کوږ والے لرې کيږي، د باطِن اِصلاح کيږي، دا د قرآنِ کريم معنوي حُسن دے-

علمائے کرام فرمائي: لکه څنګه چې په قرآنِ کريم کښې ظاهري حُسن هم شته ، معنوي حُسن هم شته، هم داسې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ کښې ظاهري حُسن هم شته دے چې د دې برکتي مخ په ليدلو سره سکون ميلاؤيږي، غمونه هيريږي، زړونو ته سکون ميلاؤيږي، او په دې مخ مبارک کښې معنوي حُسن هم

شته دے[1] (چې د دې د ليدلو سره د زړونو نه زنګونه لرې کيږي او د هدايتونو معراج نصيب کيږي۔)

## نُوراني تندے مبارک

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک ډير زيات ښکلے وو ❀ د هغوئي تندے مبارک پراخه، پړقيدونکے او روښانه وو۔[2] په روايت کښې دي: چې کله به د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ويښته مبارک په مخ مبارک باندې راتلل، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د تندي مبارک نه ويښته لرې کول نو داسې به ښکاريدله چې نمر راختلے دے، کله چې به يې د لرې نه تشريف راوړلو نو د نُوراني تندي نه به د نُور شعاګانې راتللې، د هغه نُوراني شعاګانو په ليدلو به خلقو د لرې نه وئيل:

هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

هغه وګورئ! خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي۔ [3]

یقیناً جس کے آگے چودھویں کا چاند شرمائے
تمہارا ہے وہ چہرہ نِکھرا نِکھرا یا رسولَ اللہ! [4]

---

1 … شرح شمائل محمديه للباجورى، باب ماجاء فى وفاة…الخ، صفحه: 647، زيرِ حديث: 385۔
2 … سبل الهدى، جماع ابواب صفة…الخ، الباب الرابع…الخ، جلد: 2، صفحه: 21۔
3 … سبل الهدى، جماع ابواب صفة…الخ، الباب الرابع…الخ، جلد: 2، صفحه: 21۔
4 … وسائلِ بخشش، صفحه: 345۔

# غوږونه مبارک

❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوږونه مبارک ډېر ښائسته، ښکلي او کامِل وو ❁ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوږونه مبارک تک سپين وو ❁ او مبارکې زلفې يـې تـکـې تورې وې ❁ نو کله چې به مبارک زلفان د غوږونو مبارکو نه راتاو شوي وو نو ډېر ښکلے منظر به وو، د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا دا ښکلے منظر بيانوي او فرمائي: **د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو زُلفو ترمينځه به سپين سپين غوږونه مبارک داسې ښکارېدل لکه ځنګه چې د شپې په تياره کښې دوه ستورې پرقيږي۔** (1)

دَنداں ولَب و زُلف ورُخ شہ کے فِدائی
ہیں دُرِّ عدن، لعلِ یمن، مُشکِ ختن پھول (2)

وضاحت: که د عدن ملک ملغلرې وي او که د يمن قيمتي کاڼي يا د هوسۍ د نوم نه وتلي مشک، دا ټول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غاښونو مبارکو، شونډو مبارکو، زلفو مبارکو او نوراني مخ باندې قربانيږي۔

# وروزې مبارکې

❁ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وروزې مبارکې د کمان په شان کږې، اوږدې او نرۍ وې

---

1... دلائل النبوة للبيهقي، حديث هند بن ابي هالة في صفة رسول الله، جلد:1، صفحه:300۔
2... حدائقِ بخشش، صفحه:78۔

❀ د دواړو وروزو مبارک ترمينځه يو رَګ وو، کوم چې به د جلال په وخت راوتلو-(1)

بعضې وخت به د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ويښتهٔ مبارک د تندي پهٔ دواړو وروزو باندي راتلل ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغې د اخوا کولو نه بغير هم پهٔ هغې سجده کوله- حضرت جابِر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي:

رَاَیۡتُ رَسُوۡلَ اللهِ یَسۡجُدُ عَلٰی قِصَاصِ شَعَرِهٖ

ترجمه: ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپلو مبارک ويښتو باندي پهٔ سجده کولو ليدلے دے-(2)

خمِ زُلفِ نبی ساجِد ہے مِحراب دو اَبرو میں
کہ یارَب! تُو ہی والی ہے سِیہ کارانِ اُمّت کا(3)

وضاحت: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مبارک تندي باندي د وروزو د محراب ترمينځه زلفې مبارکې داسې راښکته شوي معلومېږي لکه چې پهٔ سجده کښې وي او د الله پاک پهٔ دربار کښې داسې عرض کوي چې اے زما رَبه! هم تهٔ د دې اُمت د ګنهګارانو، خطاکارانو او سياه کارانو والي او مددګار يــې-

---

1...شمائل محمديه ، باب ما جاء في خلق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، صفحه:14، حديث:8-
2...طبقات کبرىٰ، جلد:1، صفحه:331-
3...حدائقِ بخشش، صفحه:38-

# مبارکې سترګې

❁ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې سترګې غټې او ښې تورې وې۔ (1) ❁ مبارک بانړه يـې ښکلي او اوږدهٔ وو۔ (2) ❁ د مبارکو سترګو پهٔ سپينو حصو کښې يې سرې کرښې وې۔ (3) ❁ او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې سترګې پهٔ قدرتي توګه سُرمګينې وې (يعنې هغوئي به اګر که رانجه پورې کول خو د رانجو پورې کولو حاجت ورته نهٔ وو۔) (4) ❁ حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماشومتوب مبارک وو، نور ماشومان به چې کله د خوب نه رابيدارېدل نو د هغوئي وينبتهٔ به ګډې وې او سترګې به يـې د خوبه وې، خو رسولِ خُدا، احمدِ مُجتبىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د خوب نه رابيدارېدلو نو د سر مبارک وينبتهٔ به يـې غوړ او سترګې به يـې پهٔ رانجو تورې وې۔ (5)

❁ زمونږ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې هغوئي به د حيا نه سترګې مبارکې ښکته ساتلې او چې کله به يـې کتل نو عادت مبارک يـې وو چې د سترګو

---

1…دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة عين رسول الله، جلد:1، صفحه:213۔

2…شمائل محمديه، باب ما جاء في خلق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:12، حديث:7۔

3…دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة عين رسول الله، جلد:1، صفحه:210۔

4…دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة كفي رسول الله، جلد:1، صفحه:248۔

5…طبقات كبرىٰ، ذكر ابي طالب و ضمه رسول الله، جلد:1، صفحه:96۔

پۀ ګوتونو کنبي به يـې کتل-[1]

نیچی آنکھوں کی شَرم و حَیا پر دُرود | اُونچی بینی کی رِفعت پہ لاکھوں سلام[2]

## پوزه مبارکه او مخ مبارک

پوزه مبارکه يـې د دنګوالي طرف ته مائله او نرۍ وه، پۀ مينځ کنبي حصه لږه شان لوړه وه، پۀ دې باندې به هر وخت نُور ځليدلو-[3] رخسار[اننګي] مبارک يـې سپين[4] او پړقيدونکـي وو-[5]

جن کے آگے چراغِ قمر جھلملائے
اُن عذاروں کی طلعت پہ لاکھوں سلام[6]

وضاحت : زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اننګي د کوم د پړقه او ځلا پۀ مخکنبي چي سپوږمۍ داسي محسوسيږي لکه ډيوه چي بړقيږي د هغه مبارکو اننګو پۀ پړقه او ځلا دې پۀ لکونو سلامونه وي.

---

1...دلائل النبوة للبيهقي، حديث ہند بن ابي ہالة فی صفة رسول لله، جلد:1، صفحه:287۔
2...حدائق بخشش، صفحه:301۔
3...شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:13، حديث:8۔
4...سبل الهدىٰ، جماع ابواب صفة...الخ، الباب السابع...الخ، جلد:2، صفحه:29۔
5...العِقد الفريد، اخبار المغنين، المسدود وزنين وديس، جلد:7، صفحه:45۔
6...حدائقِ بخشش، صفحه:301۔

# شونډې مباركې او غاښونه مبارک

❁ شونډې مباركې يې نرۍ، نرمې او نازكې وې-(1)

وہ گل ہیں لب ہائے نازک اُن کے ہزاروں جھڑتے ہیں پھول جن سے
گلاب گلشن میں دیکھے بلبل، یہ دیکھ گلشن گلاب میں ہے (2)

❁ غاښونه مبارک يې تک سپين او پرقېدونکي وو، په دې کښې د مناسب حده پورې فاصله وه، کله چې به خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرې کولې نو د غاښونو نه به نُور ځلېدونکے په نظر راتللو- (3)

## ږيره مباركه

❁ ږيره مباركه يې ګڼه وه، په اوږد والي کښې به همېشه د يو موټې برابر وه او په پلن والي کښې به يې سينه مباركه ډكوله- (4)

خط کی گردِ دَہن، وہ دِل آراء پھبن
سبزۂ نہرِ رحمت پہ لاکھوں سلام

---

1...سبل الهدیٰ، جماع ابواب صفة...الخ، الباب الثامن...الخ، جلد:2، صفحه:33۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:181۔
3...شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:15، حدیث:17۔
4...الشفا، القسم الاول، الباب الثانی فی تکمیل الله تعالیٰ له المحاسن...الخ، جز:1، صفحه:54۔

رِیشِ خُوش مُعْتَدَل، مَرْہَمِ رِیشِ دِل

ہالۂ ماہِ نُدْرت پہ لاکھوں سلام (1)

وضاحت:د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک نه ګير چاپير د ګيرې مبارکې د خط حسن داسي دے لکه څنګه د رحمت د نهر په غاړه راښتونکے شينکے وي په هغه حسن دي په لکونو سلامونه وي د هغوي برابره ګيره مبارکه د زخمي زړونو دپاره مرهم دے ،دا ګيره مبارکه په داسې ګولائي کښې ده لکه د څوارلسمې سپوږمۍ دائره الله‌الله په دغه حسن دي په لکونو سلامونه وي.

## د هغوئي مخ مبارک د نُور دے

غرض دا چې مخ مبارک، د دې هر يو اندام، هره يوه حصه ډېره ښکلې وه ✿ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات ښکلے څوک نۀ دے ليدلے، د هغوئي مخ مبارک دومره نُوراني وو چې ګويا په نُوراني مخ کښې يې نمر ځليږي۔ (2)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

ک گیسو، ہ دَہن، ی اَبرو آنکھیں ع ص

کٓھٰیٰعٓصٓ اُن کا ہے چہرہ نُور کا (3)

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:301۔

2...ترمذی، ابواب المناقب...الخ، باب صفة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:833، حديث:3657۔

3...حدائقِ بخشش، صفحه:249۔

## خُدائے هغوئي ته ځومره په مينه ګوري

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ مبارک مختصر ذِکر وو، تاسو وګورئ! دا ځومره ښکلے پاک مخ دے ❁ ونې، کاڼي ❁ اِنسانان ❁ فرښتے ❁ پيريان نور به څۀ وايم ❁ ټوله د هغوئي د خالِق او مالِک، اللّٰه پاک د هغوئي نُوراني مخ خوښ دے- په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا<br>(پارہ:27، سورۂ طور:48) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او اے حبيبه! ته د خپل رَبّ په حُکم قائِم اوسه چې بے شکه ته زمونږه په نظر (حفاظت) کښې يې- |

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د خپل رَبّ په حُکم باندې صبر اوکړئ! بے شکه زمونږه د رحمت نظر، د کرم نظر او د محبت نظر همېشه او هر وخت هم ستاسو طرف ته متوجه وي-

## ږيره پرېږدئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د دُنيا د ټولو نه ښکلے مخ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او ستاسو پام راوګرځووم، په دې نُوراني مخ مبارک باندې پوره يو موټے ږيره مبارکه وه- چرته يو ځل هم محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ږيره مبارکه د يو موټې نه نۀ ده کمه کړې-

کاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي، مونږ هم د ټولو نه ښکلي آقا، محبوب مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّتو باندې عمل اوکړو او خپل مخونه پۀ ږيرو مبارکو باندې ښکلي کړو- وګورئ! که چرې ږيره د حُسن خِلاف وے نو مَعَاذَاللّٰه! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مخ مبارک باندې به نۀ وه- چې د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ نُوراني مخ باندې ږيره مبارکه وه نو دا دليل دے چې د نارينه حُسن هم پۀ ږيره پرېښودو کښې دے-

**پۀ روايتونو کښې دي**: څۀ فرښتې داسې دي چې کله هغوي پۀ خپل مينځ کښې پۀ څۀ خبره باندې قَسَم خوري نو داسې وائي: پۀ هُغه اللّٰه پاک باندې دې قَسَم وي چا چې اِبنِ آدم ته پۀ ږيرې سره ښائست ورعطا کړو- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې ږيره مبارکه زمونږ ښکلا ده- پۀ ږيره پرېښودو کښې حُسن هم دے، ثواب هم دے او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې پۀ برکت سره پۀ اخرت کښې خلاصے هم دے-

## ږيرې اوږدې کړئ---!!

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

خَالِفُوا الْمُشْرِکِیْنَ وَاَوْفُوا اللِّحٰی وَاحْفُوا الشَّوَارِبَ

---

1...قوت القلوب، الفصل السادس و الثلاثون...الخ، جلد:2، صفحه:240-

ترجمه: د غير مسلمو مخالفت اوکړئ--! ږيرې اوږدې کړئ--! او بريتونه ښه واړهٔ ساتئ--![1]

## د ږيرې پرېښودو فضيلتونه او فائدې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ږيرې مبارکې پرېښودو فائدې دي او د خرېلو تَش نقصانونه دي، پهٔ دې کښې څهٔ څهٔ فائدې دي؟ واورئ! ❁ ږيره پرېښودل د انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي ❁ ږيره د نارينه ښائست دے ❁ د ږيرې پرېښودو سره عزت او وقار زياتېږي ❁ د ږيرې پرېښودو سره د ځرمنې د بيمارو نه حفاظت کېږي ❁ ږيره د غاړې او سينې پورې د نقصان رسوونکو جراثيمو مخنيوے کوي ❁ ږيره د ساه لندې او د پرپوس د بيمارو نه محفوظ ساتي ❁ ږيره د خناق د بيمارئ نه بچ کول کوي-

## د ږيرې د خرېلو نقصانونه

نقصانونه څهٔ څهٔ دي؟ واورئ! ❁ ږيره خرېل حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے ❁ د مخ قدرتي ښکلا کموي ❁ ږيره خرېل د الله پاک تخليق بدلول دي ❁ د ږيرې خرېلو سره د ځرمنې، پرپوس او د ساه لندې د بيمارئ خطرې زياتېږي-

الله پاک دې زمونږه توفيق نصيب کړي- کاش چې مونږ ټول پهٔ مخ باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت پرېښودونکي جوړ شو-

آمين بجاهِ خاتمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...شرح السنه، کتاب اللباس، باب قص الشارب، جلد: 7، صفحه: 79، حديث: 3193-

## پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ زړهٔ کښې د الله پاک د وېرې زياتولو، د قبر او د اخرت د تيارئ د جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم بنه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شمېره خېرونه به درنصيب شي- د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه هم ده-

❁ قرآنِ مجيد زده کول ډېر د فضيلت کار دے: ❁ پهٔ احاديثو کښې داسې مضمون دے: چې پهٔ داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تهٔ عالِم يې او يا د دِين طالبِ عِلم [1] ❁ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے- [2]

❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه لګوي ❁ پهٔ دې کښې د قرآنِ پاک درې آيتونه ❁ د هغې ترجمه او تفسير اورېدے او بيانولے کيږي ❁ د فيضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ❁ شجره شريف لوستلے شي ❁ دُعا کيږي او ❁ پهٔ اخِره کښې د اشراق او څاښت نـفلونه هم ادا کولے شي.

---

1...دارمی، المقدمة، باب فی ذهاب العلم، صفحه:96، حديث:254۔

2...ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن وعلمه، صفحه:48، حديث:219۔

❁ تاسو هم د تفسير اوريدو او بيانولو پۀ حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به درنصيب شي ❁ د حديثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نېکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغۀ ته د عمرې ثواب مېلاوېږي- (1) ❁ چې د سحر وخت پۀ نېکو کښې تېر شي نو برکت به مو نصيب کيږي ❁ ټوله ورځ به مو ښه تېرېږي ❁ سحر سحر به مو د عِلمِ دِين زده کولو موقع نصيب کيږي ❁ د شجره شريف پۀ شکل کښې به د نېکانو بندګانو ذِکر کيږي ❁ د هغوئي محبت به پۀ زړۀ کښې کښېني ❁ د اوليائے کرامو رُوحاني توجه به درنصيب کيږي ❁ ايمان به مو تازه کيږي ❁ د هغوئي پۀ وسيله باندې شوې دُعاګانې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! به قبليږي ❁ يو ډېر لوئي برکت دا چې د سحر د نمونځ نه د اشراق پورې پۀ جومات کښې اساريدل د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي پۀ دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب کيږي ❁ د حديثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نمونځ نه پس پۀ ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بيا د اشراق، څاښت نفلونه اوکړي، هغۀ ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کيږي- (2)

## ويزې مېلاؤ شوې

راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو، يو اِسلامي ورور تقريباً د 14 کالو نه پۀ بهر ملک کښې مقيم وو هلته د هغۀ خپل کاروبار دے، هغۀ ته يو ځل پۀ کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پېښ شو- هغه د ويزو د پاره بيا بيا درخواستونه جمع کړل، خو د ډېرو کوششونو باوجود ويزې مېلاؤ نۀ شوې- ډېر کلونه داسې تېر شول، هغه ډېر

1... مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حديث:317-

2... شعب الايمان، باب فى الصيام، جلد:3، صفحه:420، حديث:3957-

پرېشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي په وجه د هغه نقصان کېدو- خېر هغه همت اوکړو يو ځل يې بيا درخواست جمع کړو، په دغه وخت کښې يو اِسلامي ورور هغهٔ ته د شجرهٔ قادريه عطاريه نه د شجرهٔ عَالِيَه د دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغهٔ د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د شجرهٔ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه لوستو په برکت د هغهٔ هغه کار کوم چې د تېرو ډېرو کلونو راسې نهٔ کېدو، ډېر په حيراني سره په يو څو ورځو کښې وشو او هغهٔ ته وېزې مېلاؤ شوې-

مُشکلیں حل کر شہِ مُشکل کُشا کے واسطے | کر بلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اسلامک سپيچز( Islamic speeches ) موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقان رسول ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون په ذريعه هم د علم عام کولو کوشش کوي په دې حوالے سره د دعوت اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د طرف نه مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کېشن اسلامک سپچز هم دے- ✿ د دې په ذريعه تاسو د دعوت اسلامي هفته وار ✿جمعې ✿او د مختلفو ايونټونو نوي زاړهٔ بيانات په اسانى سره حاصلولے شي ✿ دا بيانات نهٔ صرف په اردو ژبه کښې دي بلکې انګلش، سندهي ،پښتو،بنګالي ژبو کښې موجود دي، ✿ دا بيانات تاسو لوستلے هم شئ او مخصوص بيانات په اډيو کښې اوريدے هم شئ، ✿ د بياناتو د لټولو سهولت پکښې هم موجود دے په

کوم سره چي تاسو د خپلي خوښي بیان پهٔ اسانۍ سره لټولے شئ ❀تاسو خپل خوښ بیانونه پهٔ فیورټ کښي محفوظ کولے هم شئ ❀هم نن دا ایپلي کېشن پهٔ خپل موبائل کښي ډاؤنلوډ کړئ او نورو له هم ترغیب ورکړئ -

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چینل د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقریباً:9 بجي) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښي چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دي پهٔ دي مَدَني مذاکره کښي پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دي هم دعوت ورکړي ❀ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې **دیني رسالې** لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښي به د رساله **د کمو خبرو کولو فائدې** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر کړي! ❀ مکتبة المدینه د طهارت پهٔ مسئلو باندې مشتمل یو ښکلے کتاب **طہارت کا انسائیکلوپیڈیا** چاپ کړے دے- پهٔ کوم کښي چې ❀ د اوداسه، غسل، تیمم او بلوغت پهٔ باره کښي شرعي مسئلې ❀ پهٔ موزو باندې د مسح کولو حکمونه ❀ د مختلفو اوبو او کوهیانو د بیان نه علاوه

ډېرې مسئلې په اسان انداز کښې بيان کړے شوې دي- تاسو دا كتاب د مكـتبة الــمدينه د يوې څانګې نه په 16 روپۍ په بيعه حاصل کړئ-

❁ د عاشقانِ رسول د پاره عظيم عِلمي او روحاني زيرے! د هر كال په شان څكال هم مكـتبة الــمدينه د يوم تحفظ ختمِ نبوت او د يوم دعوتِ اِسلامي په موقع باندې د ورومبي ستمبر نه 12 ستمبر كال 2026ء پورې په ټولو كتابونو او رسالو باندې 16% لوئي سېل ډسكاؤنټ آفر پېش كوي- د ډسكاؤنټ آفر نه فائدې اخستو د پاره د نزدې مكـتبة الــمدينه سره رابطه اوكړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيْ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوكړو هغه زما سره محبّت اوكړو او چا چې زما سره محبّت اوكړو هغه به په جَنَّت كښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د قرآنِ پاک تلاوت كول سُنَّت عمل دے

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما د اُمَّت افضل عبادت د

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

قرآن تلاوت دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت عمل دے۔ زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم ډېر زيات تلاوت کولو ❁ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شپې په نـمونځ کښې کله د ټول سُورۀ بقره او د سُورۀ آلِ عمران تلاوت کولو [2] ❁ هره شپه به يـې د سُوْرَۀ کافرون، سُوْرَۀ فَلق او سُوْرَۀ نَاس تلاوت کولو او بيا به اودۀ کېدلو۔ [3]

الله پاک دې مونږ ته هم ښه ډېر د قرآنِ پاک د تلاوت کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا

شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او وه يـې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

---

1...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004۔

2...شمائل محمدیہ، باب فی صوم رسول اللہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:121، حدیث:320۔

3...شمائل محمدیہ، باب ما جاء فی نوم رسول اللہ صلی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:102، حدیث:264۔

| | |
|---|---|
| مانگو آکر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو |
| ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد